عبدالحسیب حکیم ۲۰۱۸/۰۱/۰۸

# د «لوی پاسوال» عبدالرازق

## اصلي څېره وپېږنۍ

ځيني خلک غوارې په خپلو ليکنو کې د ټوپکسالارانو ياغی واليانو او قومندانانو د قانون ضد اعمال چې په حقيقت کې د اسلامی او ملی کټو سره په ټکر کې دي، توجيه کړي او دغه منفورې څېرې ټولنې ته سپين چرګان ور وپېژني. دوی تل په سيمو کې د دې واليانو او قوماندانانو په هکله لاسته راوړنو ته په خاصه توګه په امنيتي برخه کې اشاره کوي او وايي چې که دا والی يا قوماندان صاحب نه وای، نو نه به چا اقتصادی وده ليدلې وه او نه به هم امنيت راغلی وای. دا چې دې ظالمانو ولس په اسارت کې نيولی او ولس د دوی د قدرت د جزيرو د ساتلو د پاره څومره مالي او ځاني قرباني ورکړې او ورکوي او يا هم ولس په دې لاسته راوړنو کې څومره ونډه لري، هيڅ کومه اشاره هم نه کوي.

پرون مې د روهی په ويبپانه کې يوه ليکنه "د لوی پاسوال عبدالرازق عتيق زي" تر عنوان لاندې ولوستله. زما په آند محترم ليکوال له ماشينی جنرال عبدالرازق څخه سم شناخت نلرې که نه خويې دا ياغی قوماندان سپين چرګ نه معرفی کاوه. خو زه به محترم ليکوال ته د ماشيني جنرال يا د ليکوال په خبره لوی "پاسوال" رازق خان اصلي څېره ور وپېژنم.

عبدالرزاق اڅکزی چې مستعار نوم يې رزاق خان او په کال ۱۳۵۸د کندهار د سپين بولدک په ولسوالی کې زيږيدلی دی، د کندهار په دويم ګورګين هم شهرت لري. ويل کېږي چې د ټوپکيانو په وخت کې لغړزنی هلک و چې د کندهار ميدان ته نږدې يې د قوماندان منصور په پوسته کې شپې تيرولې، کله چې طالبانو کندهار ونيو منصور په خپل فيجارو موټر کې د ريګ په خوا وتښتيده او غوښتل يې چمن ته واوړي په ريګ کې د منصور موټر بند سو او طالبانو ته په لاس ورغی، طالبانو منصور اعدام کړ او د ميدان مخې ته يې د ټانګ په ميل راځوړند کړ او رازق چې له منصور سره په فيجارو کې ګير شوی و، ځکه يې پرېښود چې بلوغ ته نه ورسيدلی او غير مکلف و. رازق له هغه وروسته کوټې ته ولاړ هلته د لوچکانو او قاتلانو د باند غړی سو او کله چې امريکايان راغلل، بيرته کندهار ته راغی او امريکايانو ورته په بولدک کې د پي آر تي په تشکيل کې ځای ورکړ.

رازق په بولدک کې هم سخت ظلمونه او قتلونه وکړل، له دې جملې د چمن د هغو ځوارلسو ځوانانو قتل عام د یادولو وړ دی چې د نوروز میلې ته تللي او بیرته د راګرځیدو په وخت رازق اختطاف کړل او بیا یې مړه جسدونه وموندل سول.

که پخوا د رازق د وحشت سیمه یوازې بولدک، ارغسان او معروف وه مګر اوس یې ټول کندهار او حتی زابل ته سرایت کړی دی، رازق د امنیه قوماندان په حیث له ټاکل کیدو وروسته د ټول کندهار قدرت په لاس کې اخیستی او د مړتت والي او نورو چارواکو له بې حسی څخه یې ښه استفاده کړې ده.

رازق په کندهار باندې بشپړ پولیسي او استبدادي نظام قایم کړی دی، دده ځانګړي استخبارات، ځانګړې څارنوالي او ځانګړې صحرايي محکمه لري، چې د خپل شخصي وحشي باند د غړو په مرسته هرچا ته یې چې خوښه سي نیسي او بیا یې په ډېر قساوت وژني.

د جنرال رازق د ښاري باند د شکنجو شخصي ځایونه د امنیتي حوزو پوستې، په امنیه قوماندانی کې د نظارت خانې په نامه کانتینرونه او له منډیګک مانۍ سره مخفي زندان دی، چې د کندهار اوسنی ګورګین او د هغه قساوتګر چوکران په کې د انسانیت په ضد جرائم ترسره کوي.

د جنرال رازق له دغو مخفي زندانونو څخه داسې کیسې راوتلې دي چې سړی یې د اوریدلو تاب نلري، د کندهار یو دلیسي زده کوونکی چې د رازق وژل سوي جلاد جاجو د نامعلوم جرم له امله نیولی و، وايي چې په دغو مخفي شکنجه ځایونو کې په انسانانو له ډول ډول شکنجې نیولې تر جنسي تیریو پورې سزاګانې عملي کیږي، د دغو سزاګانو یوه یې په تناسلي اعضاوو پورې د درنو وزنونو ځوړندول دي، د رازق له زندانه ژوندي راوتلي ښاریان وايي، چې رازق انسانان بربنډوي، بیا په داسې حال چې دیوال ته یې لوڅ درولی وي، په تناسلي اعضاوو پورې یوکیلویي اوسپنې ځوړندوي، که په یوکیلویي وزن دده خبرو ته ځواب ورنکړي، نو وزن زیاتوي او دوه کیلویي کوي همداسې تر لس او پنځلس کیلو پورې وزن اضافه کوي، تر څو ګرفتار سوی شخص په نه کړیو جرمونو اعتراف ته مجبور کړي.

د «هستي محمد» په نامه د کندهار د شیرمې ناحیې یو اوسیدونکی چې زده کوونکی دئ، د جنرال رازق لخوا ور څخه په همدې ډول په اختطاف کې دلاس درلودلو اعتراف اخیستل سوی او په دې توګه د اختطاف اصلي مجرم ته چې د رازق د باند غړی دئ برائت ورکول سوی او جرم یې په بې ګناه «هستي محمد» تاوان سوئ.

د کندهار یو بل اوسیدونکی چې د رازق کسانو ورڅخه په جبر اقرار اخیستی وايي: ما په هیڅ جرم کې لاس نه درلود، د رازق په یوه مربوط زندان کې ډیرې شکنجې راکړل سوې خو اقرار مې ونکړ، آخر یې ډوډی را باندې قطع کړه، څو ورځې یې ډوډی رانکړه بله ورځ یې یوه لویه هندوانه راته راوړه، زه چې وږی وم ټوله هندوانه مې وخوړله، د رازق کسان راغلل جامې یې رانه وایستې لاسونه یې ترشا راوتړل او زما تناسلي آلت یې په یوه ربړ باندې مضبوط وتاړه، تر څو بولې ونه کړای سم، ما چې هندوانه ډیره خوړلې وه د بولو کولو ضرورت راته پیښ سو، خو داچې تړل سوی وم نو مثانې مې سخت درد شروع کړ، د همدې درد په حالت کې یې راته وویل چې ومنه دغه خبره چې موږ یې درته وایو که نه په همدې درد کې به مړ کیږې، ما له سخت درد سره سره ورته اقرار نه کاوو، خو په پای کې بې هوښی ته نږدې سوم او د مرګ خطر مې و نوځکه له مرګ څه دنجات له امله مې ورته په دروغو اقرار

وکړ. دغه بندي وايي د رازق په زندان کې هيڅکله ډېر خوراک او څښاک مه کوئ کنه دغسې ظالمانه سزا به درباندې عملي کوي.

د کندهار د معاصر ګورګين جنرال رازق د شخصي زندانونو او څارنواليو خبره مو وکړه خو دا مو ونه ويل چې د رازق شخصي محکمې چيرې دي؟

د رازق د محکمو لپاره بايد له ښاره ووځئ، ځکه د رازق محکمې ښاري نه بلکې صحرايي محکمې دي په کندهار کې د ريګ او دامان دښتې دغه راز په خاص ډول د ميان کوه سيمه هغه ځايونه دي چې رازق په کې مظلوم کندهاريان چارماري کوي او بيا يې په سکواټورونو تر خاورو لاندې کوي.

د ميان کوه سيمه اوس مشهوره ده، کله چې د کوم کندهاري زوی يا د کورنۍ کوم بل غړی ورک سي، نو سمدستي يې په ميان کوه کې تلاش کوي، مظلوم پلرونه هره ورځ د خپلو ځوانو زامنو د جسدونو د ترلاسه کولو لپاره ميان کوه ته ځي، ترڅو يې په سوري سوري غورځول سوي جسد باندې پيښ سي.

په ملګرو ملتونو کې د ربړوني ضد کميټې مشر جينز موډويګ د تېر کال د غويي مياشتي په ۲۳ نېټه ويلي: «داسي راپورونه شته چې د کندهار امنيه قوماندان جنرال عبدالرازق شخصاً په خپله مستقيماً د زندانيانو په ربړونه کې لاس لري.»

د ملګرو ملتونو د ربړوني ضد کميټې په راپور کې ويل شوي چې کمېټه د هغو ادعاوو له امله ژوره اندېښنه لري چې وايي د کندهار پوليس له زندانيانو سره زور زياتی کوي لکه دا چې د بربښنا شاټونه ورکوي، د خصيو ټکول، زندۍ کول او د زندانيانو معدې ته په زور د اوبو ننويستل.

دغه راز تور لګول شوی چې د کندهار پوليس په يو کسيزه خونو کې د زندانيانو په ساتلو، په زور د ورکولو، له تفکيک پرته د کسانو په نيولو او له قضايي اجراآتو پرته په نښتو کې د وسله والو په وژلو کې لاس لري.

رازق خان ربښتيا وايي چه دی هيڅوک برطرفه کولی نشي، ځکه دی هم د جمعيت يا د نظار له داړه مارانو په شان يو اوباش او ياغی قوماندان دئ. ان شاء الله چې د ټوپکسالارانو، اوباشانو، بدماشانو، خپلسرو چاقو کشانو، غاښ ماتونکو زورواکانو، دغلو او رهزنانو دوران په ختميدو دئ.



په پای کې باید وویل سي چې رازق خان یواځینی زورواکی ندئ چې د مرکزی حکومت پر مخ خنډ دئ. که ولشمر غنی واقعاً غواړي چې ولس پر ده باندې بروسه او اعتماد پیدا کړي، نو غوره به دا وي چې د دې خپلسرو زورواکانو لکه رازق خان، لالی، ظاهر قدیر، حضرت علی همایون همایون، دوستم، عطا نور او جنګسالار محقق

ته د اساسی قانون د احکامو مطابق داسې یو سبق ورکړي، چې په راتلونکي کې هیڅ دولتی مامور، افسر، والی یا هم د ولسي او مشرانو جرګو وکیلان دا جرئت ونکړي چې د یوه منتخب حکومت په مقابل کې له بغاوت څخه کار واخلي. که ولسمشر او حکومت ددې یاغیانو مقابل کې عملي ګامونه اوچت نکړي، د حکومت او د خلکو تر منځ به واټن نور هم ډېر سي او د مرکزي حکومت له شتونه سره سره به په ټول افغانستان کې ملک الطوایفی حاکمه سي.

پای